محمد اياز نـوري
۲۰۱۵/۸/ ۱۹

# په هندوستان او مصر کي د اعليحضرت غازی امان الله خان ځرګندوني

**درنو افغانانو!**



تاسو هر يوه ته د افغانستان د خپلواکي د ۹۶ کليزي په راتګ مبارکي وايم. سږ کال ما خپل د حاضرو کتابونو له کتار نه د يوه افغان اماني شخصيت مرحوم عزيز الدين وکيلي (پوپلزي) کتاب ؛؛سفرهای غازی امان الله شاه در دوازده کشور آسيا و اروپا، ۱۳۰۷-۱۳۰۶ ش؛؛ را واخيست او لاندي ذکر شوي عنوان مي د ۲۹۲-۲۹۱ مخونه څخه راواخيست او تاسو ګرانو هيواد والو ته يي د اماني استقلال د جشن په وياړ ډالی کوم. د دي مطلب په لوستلو سره هر هيواد وال د هغه عظيم الشان پاچا موافق او مخالف، په دي اعتراف کوي، چي غازي امان الله خان په تحقيق سره يو کم مثاله خپلواکي پال په خپل اتل ملت مين او د هيواد د ربښتني پر مختګ يو زعيم وه، چي هر افغان او نړيوال حقيقت خوښوونکو رجالو د هغه مرحوم په ځانګړي شخصيت اعتراف کړی وه.

## په هندوستان او مصر کي د غازي اعليحضرت امان الله خان ځرګندوني

په بمبايی، پورت سعيد او قاهره (۲۹ نومبر – ۱۷ دسمبر ، ۱۹۲۷ز کال) او په ټولو محافلو کي خبريالانو او د جرايدو استاذو د بريتانيا د دولت په باب پوښتني کولي. امان الله شاه ويل: ؛؛ ما په ۱۹۲۱ز کال کي د برتانوي استاذو سره مفصلي خبرې کړي دي او خپلي هم هغه بنسټيزې خط مشي کي بدلون نه دئ راوستلی او تل يي تاييد کوم، لهذا زما هندي مسلمان ورونه او عرب مصري او د عالم ټول خلق دې دا حقيقت ومني؛؛.

تفصيل د موضوع څه داسی دئ: د پنجشنبی ورځ د لمريز کال ۱۳۰۰ نيټه وه، چي د برتانوي دولت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

استاذو، چي مشري يې آنريبل هنري دابس کوله په کابل کې د پاچا امان الله په حضور کې مشرف شول. پاچا هغوی ته وويل:؛؛ زه نن وينم، چي ترون د افغانستان او د برتانيي د دولتونو تر منځ لاسليک شوی دئ او خواوې د خپلو احساساتو، تقدير او هيلو پر بنا ورنه راضي دي؛؛.
بيا افغان پاچا وويل: ؛؛له خپل کوچنيتوب نه مې د نړی د ټولو قامونو د حريت هيله له ځانه سره لرله او نه مې غوښتل، چي د چا د آزادی او حقيقي استقلال حق دې ورڅخه ضايع شي، بالخصوص زما د خپل افغانستان په حق کې ماته دا حالت د زغم نه وه، چي زما هيواد د دې صريح حق نه محروم اووسي او سبب د دې محروميت مې يواځې د برتانيه دولت پېژنده. په دې توګه زما ټول افکار د نومړي دولت سره په مبارزه کې بوختېدل او اوس هم د افغانستان د استقلال او عزت او شرافت د دفاع لپاره، تر وروستي څاڅکي د خپل بدن د وينې تيار يم. لکه څنګه، چي ما ملت ته وويل: هغه ژوند، چي ما ملت ته د خدمت په لار کې د قرباني لپاره حاضر کړی دئ، هغه به د خپلواکي لپاره قربان کړم. ليکن زما د قام همت، ماته هم ژوند او هم يې استقلال دواړه راکړل، زه دا راته خپل دوهم وار ژوند راته بولم، چي ضرورت شو بيا به يې قربان کړم؛؛.
بيا يې وويل: ؛؛ زه اوس ډېر خوښ يم، چي بالاخره د برتانيې دولت د افغانستان خپلواکي ته په ټوله معاني درنښت کوي او نتيجه يې دا وه، چي مونږ فوري وکړای شوای د ګاونډيتوب اړيکي سره ټينګ کړو؛؛.



بيا يې وويل: ؛؛ زه په هيڅ ډول د عالم اسلام د احساساتو ته بيلېدلای نه شم، لهذا که د برتانيا دولت ته د افغان ملت توده دوستي پکار وي، بيا دې زما د خير غوښتني مشورو ته ډېر پام راوګرځوي.؛؛.
له همد ې وجهي وه، چي د مصر د الاهرام جريدې د ۱۹۲۲ز کال خپلي د جنوري د مياشتو د لومړيو ورځو په نشرياتو کې افغان بادشاه ته د **(فخر اسلام، او د ختيځ د وياړنو پيلامه)** القاب ورکړي ول.
بادشاه امان الله خان د خپل اروپايي سفر په پيل (ليندی مياشت ۱۳۰۶ل) کله، چي برتانوي هند ته ورسيد، خلکو ته يې وويل: ؛؛آزادي وربخښل کېږي نه، د توري په زور اخستل کېږي، زه د خپل سر او د خپلو خلکو د قرباني نه هېره نه لرم؛؛.
او دا، چي غازي پاچا امان الله خان د ۱۲۹۸ل کال د حمل د مياشتي په ۱۴ نيټه د کابل د عيدګاه جومات پر منبر ودرېد او خپل ملت يې داسي خطاب کړ: ؛؛د **ژوند شرافت په استقلال کې نغښتی دئ، نو اې د افغانستان عزيز ملته! خپلواکي يا مرګ...**؛؛.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

خپله دا عقیده او باور يې تل تکرار کاوه، لکه څنګه، چې يې د هیواد د خپلواکي د جشن په څلورم کال ۱۳۰۱ل د زمري د میاشتي ۲۶ ورځ ویلي وه: ؛؛ دا خپلواکي مونږ ته چا راسوغات کړې نه ده، بلکي الله تبارک و تعالی د دې نعمت مهرباني پر مونږ کړې ده او استقلال داسی کوم څه نه دي، چې څوک يې چاته ورکړي، سیوا له دې، چې څوک قرباني ورکړي، تاسو ملت وینې ورکړې او د توری په زور مو دا نعمت حاصل کړ... الحمد لله؛؛.

د افغان غازي بادشاه فرمایشونه د عام ملت په حافظه کې پاتې ول او بادشاه د خپل اروپایي سفر په بهیر کې خپل د ژوند لومړني افکار بیان کول.

**وطن پالو افغانانو!**

دا وه زمونږ د تاریخي افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت مرحوم غازي امان الله خان د آزادي پال او وطن پال شخصیت یوه لنډه هنداره،چې ما قاصر د مرحوم وکیلي پوپلزي د کتاب نه يې پښتو متن په امانت والی سره ستاسو درانه حضور ته تقدیم کړ.

نن مونږ افغانان د خپل تاریخي هیواد د استقلال کلیزه په یوه کړکیچن سیاسي وضعیت کې سره لمانځو، چې لا وسله واله جګړه د طالبانو د تحریک او د پاکستان د ولت د استخباراتو له خواء په ټول هیواد کې روانه ده. امنیت نشته او د خلکو اقتصادي حالت خراب او د یوه بې وسه یا کم قدرته وګړي پر مدني حقوقو د هغه بل له خوا، چې یا مادي قوت لري او یا هم وسله په لاس کې لري، ناروا تیری کیږي. د خلکو شخصي او هم ملي شتمني لکه دولتي ځمکي د زور غړوونکو له خوا،، چې په سر کې يې د رباني د جمعیت د باند اړوند کسان دي او ورسره په څنګ کې د نورو په اصطلاح جهادي تنظیمونو افغان دشمنه افراد، چور او غصب کیږي. او بلاخره نن مونږ په هیواد کې یو په نه منطق ولاړ د ؛؛ملي وحدت؛؛ تر نامه لاندي یو دولتي تشکیل لرو، چې د بهرنیو هیواد د ناسمو مداخلو محصول دئ.

نن زه هغو ټولو هیوادو ته په سر کې يې د امریکا د متحده ایالاتو د حکومت، چې د ناټو د جګړه ایز سازمان په چوکاټ کې زمونږ افغانستان ته د مرستي په نوم راغلي دي، او د خپلو ناسمو کړنو له کبله يې زمونږ ملي حاکمیت يې تر پوښتنی لاندي راوستلی دئ، رجوع کوم، چې تاسو د افغانستان د خلکو په مخ کې وجداني او اخلاقي مسوولیت لرئ، چې د افغانستان مظلوم ولس ته په اخلاص لاس ورکړئ، لومړی د یوې هر اړخیزې او تل پاتې سولي لپاره عملي ګام پورته کړئ، او ورسره بیا داسی زمینه مساعده کړئ، چې د افغانستان خلک په یوه ملي غونډه کې سره ټول شي او داسی یو دولت ځان ته جوړ کړي، چې د هغوی خوښه په حقیقي توګه په کې موجوده وي. دا کار ځکه تاسو بهرنیانو ته ډېر مربوط کیږي، چې تاسو نن هلته مستقیم حضورلری.

**تل او آباد دې وي زمونږ ښکلی افغانستان**

**د خپلواکي د سپیڅلې لارې شهید او غازي ته درود**

پای

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ